# د "ویښ زلمي" ملي مترقي نهضت
# وياړلی غړی




## عبدالخالق اخندزاده "واسعي"

۱۲۸۰ - ۱۳۶۰ هـ. ش.

## ۱-۲۵ واسعي

ښاغلی عبدالخالق واسعي د مرحوم عبدالواسع مشر زوی د قندهار په ښار کې زېږېدلی او لوی سوی دی، په عمر پنځوس کلن معلومېږي، له رنګه برابر سړی دی، د ده والد مولوي عبدالواسع یو مشهور علامه و، چې پخوا د پښتو مرکــې مشر و او نیکه یې حبیب الله اخوندزاده هم یو مشهور بزرګوار عالم تېر ســوی دی، دی د خپل نوم سره واسعي لیکي، او ځان خپل پلار ته منسوبوي، ښاغلي واسعي کتابونه له خپل پلار څخه لوستي دي، پــه مروجــه علومــو کــې پــوره دسترس لري، ذاتاً دی هم یو پوه او هوښیار دانسته سړی معلومېږي، د عربــي علومو پوره عالم دی او عصري معلومات هم په زیاته اندازه لــري. د ماموریــت دوره یې د 1300 څخه شروع کېږي، دی اول وار د پښتو په مرکه کې عضو مقرر سو او بیا په قندهار کې د ابتدایي او رشــدي مکــاتبو دورې تېــري کــړې، تــر انقلاب وروسته کوم وخت چې په قندهار کې پښتو انجمن جوړ سو نو دی هغه وخت د انجمن په عضویت وټاکل سو. ډېره زمانه په دغه انجمن کې د یو لایــق فاضل عضو په حیث شامل و، د پښتو د ژونــد پــه لار کــې یــې زیــات قلمــي زحمتونه ایستلي دي.

په هغه وخت کې یې د پښتو زیات مجهــول آثــار پیــدا کــړي دي او د ډېــرو شاعرانو نومونه یې ژوندي کړي دي، ده د دغه انجمن په عضویت کــې ځینــي کتابونه د عربي او فارسي څخه هم ترجمه کړي دي، په دې جمله کې د معارف د پروګرام څو کتابونه هم شامل دي او د حصون حمیدیه په نوم یو کتاب هم د ده په قلم د عربي څخه ترجمه سوی، د معلم پښتو په تالیف کــې هــم برخــه لري، واسعي د پښتو په لیکوالو کې د سبقت خاوند دی، افکار یــې اعتــدالي او متین دي، په پښتو کې د ژبې د اساسي اصولو طرفدار د اجنبي لغاتو د ایستلو مخالف دی، وایي چې دا پخپل لاس د ژبې یوه لویه پانګه له ګوتو ایســتل دي. په فارسي او پښتو دواړو کې ښه لیکــونکی دی، پــه عربــي او انګلیســي هــم

پوهېږي، اردو يې هم لږ لږ زده ده، واسعي د شعر سره ډېره علاقه نه لري نسبت و نثر ته شعر کم وايي. د انيس د پښتو محرري او د پښتو ټولنې د عضويت، د قندهار د مطبوعاتو د معاوني دورې يې تېرې کړي دي، اوس په ترانسپورت کې سرکاتب دی، د نثر مقالې او منظوم آثار يې په طلوع افغان، پښتو مجله، انيس کې په زياته اندازه پيدا کېږي.

### ۱-۲۵-۱ د واسعي د کلام نمونه:

**تياره او ښکلا**

تل يې ګوره چې تياره او ښکلا
دوه عنوانونه د غروب پر کتاب
خير ورته ګوره ! چې ښکلا هر ماښام
له تا بېلېږي د تيارو په حجاب
تولـه نـرۍ باندې آرام سي حاکم
چې لمر پښه کېښېږدي د غروب په رکاب
څو چې سهار سي تياره مخ ونيسي
بير تـه عالم د ژوندون اور کړي کباب

لمر د افق پر ژۍ جلي وليکل
چې عالم روند دی هم مغرور هم خطا
آيا د ژوند فنا زوال نه وينې؟
لکه تيارو چې زما رونا کړه تالا
کشکې لمر خپل تاريخ ليکلای همېش
چې څه پېښېږي دي رژېدلي پخوا؟

د لمر نظام ته يو حيرت اخيستى
ختو لوېدو يې سودايي كړه دنيا

نوټ :-

د ښاغلي واسعي د سوانح پورتنى مضمون د ښاغلي خادم په قلم ليكل سوى او د 1319كال په سالنامه كې خپور سوى دى، ما سره له لږ تصرف او زياتوالي رانقل كړ.

ليكلي آثار:

تاليف

پښتو خود آموز

پښتني دودونه

بشپړه ويناوې

د روح الاجتماع ژباړه

نړۍ په دوه زرم كال كې

شخصيت څنگه وده كوي

د روح التربيه ژباړه

د روح الاعتدال ژباړه

علم النفس او د هغه اغېزې په ښوونه او روزنه كې

د الصحافه پښتو ژباړه

د حصون حميديه پښتو ژباړه

WWW.AEL.AF

پښتو معاصر ليكوال

عبدالقدوس نجيب

۱۳۹۴ لمريز كال